سلطان جان کلیوا ل

۲۰۲۲/۰۱/۰۷

# د نوی کال په لومړی ورځ

د نوی کال په دی اوله ورځ کی:

یوه اشنا راته کـنځلي وکــړې

زه می کناه باندی و نه پوهــیدم

هغه تکرار په څو څو ځلي وکړی

= = =

شومه حیران چی دا کیسه به څه وی

دی شنه سهار کی مسئله به څه وی

کال چی را نوی شی په دومره غضب

ربه! راتلونکي ګـزاره به څــه وی

= = =

نور خو پوه نه شومه خو دومره پوه شوم

چی وخت بدلیږی خـو مـونږ نه بدلیږو

مـونـږ ییو په کرکه کی واړه لـوی شــوي

مـونـږه د مـیـنې په کـــړو نه پـوهـــیږو

= = =

نو نــوی کال نه هــم دا هــیله نشـــته

چی به زمـونـږه زړو ته مـیـنه ورکړی

یا بـه رګـــو تــه د زړو زړونـــو

له مــیــنې جوړه نـوې ویـنه ورکـړی

= = =

یـیـو به هـمـداسـی تر دیرشـمي پیړی



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

لــکـه چی یـیـو نـن پـه اوم قـــرن کی

ختــه زمونږ ده  د نیــکـونـو پـه څـیر

وی بـه هــمـداسـی پـه سـلم قـرن کی

= = =

نو سپکو سـپورو سره ځان عادت کړی

ژوند کی خـوښــیو ته پـه تــمه نه شئ

غـمـونـه نـوي هــره ورځ  را درومـی

ویــی زغـمـئ سـتړي لـه غـمـه نـه شئ.

جنوری اول ۲۰۲۲

ایجکس - کانادا



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوا ل روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com